افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

Afghanistan Cricket Board

بریـــــا د ټولو هیله

شپږم کال، یوولسمه ګڼه
ډسمبر - ۲۰۱۹ کال

په هېواد کې لومړنی
بشپړ اسلامي بانک

اولین بـانک کـاملاً
اسلامی در کشـــور



ISLAMIC BANK OF AFGHANISTAN

د افغانستان اسلامي بانک
Islamic Bank of Afghanistan

2121

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو او بازار موندنې څانګه
میاشتنۍ مجله
ډسمبر - ۲۰۱۹

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي:

ابراهیم مومند، محمد فرید هوتک،
رحمت دیوان او محمد نعمان اشرفي

عکس اخیستوونکي:

سید حسرت سادات او صدیق الله عابد

ډیزاین: احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لیکلړ

افغان کرکټ

- سرمقاله ۱
- سپین غر د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس اتلولي وګټله ۲
- محمد نبي او راشد خان د لسیزې غوره لوبډله کې ۸
- کریم جنت: د افغانستان ځلول مې یوازینی هیله ده ۱۲
- د افغانستان دوه روزونکو د کرکټ له نړیوالي شورا د روزنې سندونه ترلاسه کړل ۱۸
- د کرکټ د زونونو له مسوولینو سره ګډه ناسته ترسره شوه ۲۰
- د کرکټ بابا ۲۸
- په ۲۰۱۹ کال کې د کرکټ هلې ځلې ۳۲

سرمقاله

افغان کرکټ د لا ډېرې غښتلتیا په لوري

افغانستان کرکټ بورډ په ۲۰۱۹ کال کې ډېرې لاسته راوړنې درلودې، لوبډلې د شل اوریزو او یو ورځنیو لوبو سربېره د کرکټ د اوږدې بڼې یا ټېسټ سیالیو له منځه هم له دریو، دوه لوبې د افغانستان په نوم کړې. دغه کال د افغان لوبډلې لپاره د شل اوریزو سیالیو او ټېسټ سیالیو لپاره ډېر غوره کال و او په لړ کې یې افغانستان ته ډېر ویاړونه راوړل. افغان لوبډلې په شل اوریزو سیالیو کې د کرکټ نړیوالې شورا د درجه بندۍ پر بنسټ، له اتم مقام، اووم مقام ته پرمختګ وکړ او په دغه درجه بندۍ کې یې د سریلانکا لوبډله هم شاته پرېښوده.

همدارنګه افغانستان په دغه کال کې د شل اوریزه لوبلړیو په لړ کې د ویسټ انډیز، بنګله دېش او ایرلنډ لوبډلې هم له ماتې سره مخ کړې او په ستر توپیر یې ترې سیالۍ وګټلې. که څه هم افغان لوبډله په یو ورځنیو سیالیو کې یو څه کمزورې ده، خو د افغانستان کرکټ بورډ هڅه کوي چې دغه تشه او نیمګړتیا پوره کړي. د دغې نیمګړتیا د پوره کولو لپاره د بهرنیو او کورنیو روزونکو له لوري اوسمهال لوبغاړو ته تخنیکي او غوره روزنه ورکول کېږي او لړې به نه وي چې دوی به د ۲۰۲۳م کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام ته بشپړ ډول چمتو واوسي او افغانستان ته به برياوې راوړي.

سربېره پر دې د افغانستان کرکټ بورډ اداري د خپلو فعالیتونو او پلانونو په برخه کې هم ډېر مثبت بدلونونه رامنځته کړل، دغې اداري ته یې بشپړ پلانونه او پالیسي جوړې کړې او وس یو مستقیم مسیر لري. دغه راز په ټولو برخو کې بشپړه همغږي، لوبغاړو ته پوره اسانتیاوې برابرول، د یوه بشپړ سیستماتیک اداري جوړښت رامنځته کول، د شپږیزې شپږم پړاو لوبې او د کورنې کرکټ نورې لوبلړۍ په ښه توګه ترسره کول او له بودیجوي کسر پرته نوي ۲۰۲۰ کال ته له مالي اړخه تګ؛ ټول هغه څه دي چې په ۲۰۱۹ م کال کې پرې ډېر کار شوی دی او همدې د کال د زیار او هلو ځلو ثمره ده.

دغه اداره د خپل اوږدمهال ستراتېژیک پلان پر بنسټ، د ۲۰۲۰ کال لپاره لا ډېره مؤثره تګلاره لري او انشاءالله ۲۰۲۰ کال به هم له لا ډېرو لاسته راوړنو ډک وي او دغه اداره به افغانستان ته ویاړونه راوړي او د افغانستان بیرغ به د نړۍ په ډګرونو کې رپوي.

درنښت

سپين غر د احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس اتلولي وګټله

د افغانستان کورني کرکټ په چوکاټ کې د احمدشاه ابدالي پيل شوي دريم پړاو فرسټ کلاس لوبې د دسمبر په ۲۴مه نېټه د ۲۵ سياليو وروسته په ننګرهار او خوست ولايتونو کې پای ته ورسېدې.

د دې سياليو په پای ۲۵ مه لوبه کې سپين غر لوبډلې د بوست له خوا د ۱۶۸ منډو هدف د ۴ لوبغاړو په سوځېدو پوره کړ او د ۶ ويکټو پر مټ يې په دغه لوبړې کې سرېه سر دريمه بريا خپله کړه.

د سپين غر او بوست ترمنځ لوبه کې منير احمد کاکړ په يوه پاني کې ۱۷۷ منډې هم جوړې کړې، خو د سپين غر چټک توپ اچوونکي فريد ملک يو ځل بيا ۷ لوبغاړي وسوځول او د سر په سر دويم ځل لپاره يې د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه ترلاسه کړه.

دغه راز د يادې لوبړې په ۲۴مه لوبه کې چې د ننګرهار په غازي امان الله لوبغالي کې ترسره شوه، په لړ کې يې دفاعي اتلې بند امير لوبډلې د امان رفيقي د ۱۱۱ ناسوځېدلو منډو په مټ په ۸ ويکټو بريا ترلاسه کړه.

سپين غر لوبډلې د ۱۳۶ زياتو امتيازونو په ګټلو سره لومړی مقام خپل کړ او ورته په خوست لوبغالي کې د يو لړ مراسمو په ترځ کې داتلولۍ جام ډالۍ شو.

د يادونې وړ ده چې د سياليو په پای مراسمو کې د افغانستان کرکټ بورډ اجراييوي مشر لطف الله ستانکزي، د خوست والي حليم فدايي، د کورني کرکټ مسوول احمد شاه سليمانخېل، د اتل سپين غر زون مسوول ميوند مجاهد او د مس عينک زون کرکټ مسوول خوشحال نيازي او نورو مېلمنو برخه اخيستې وه.

د دغې لوبړې په پای مراسمو کې د کرکټ بورډ اجراييوي مشر لطف الله ستانکزي په خپلو خبرو کې يادې ځلوړ ورځنۍ لوبې د افغانستان د کرکټ لپاره

مهمې وبللې چې په وينا يې د لوبغاړو په روزنه او تخنيک کې مهم رول لري او پکې ځوان استعدادونه رابرسېره کيږي چې په وينا يې، دغه لړۍ به جاري ساتي.

همدارنګه د خوست والي حليم فدايي هم د کورنۍ کرکټ لوبې د هېواد کورنۍ اقتصاد سره تشبيه کړې چې په وينا يې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلو ته نوي ځوانان توليدي.

ښاغلي فدايي له افغان کرکټ بورډ څخه مننه وکړه چې د کرکټ په برخه کې د داسې سياليو په ترسره کولو سره کادرونه روزي او د افغانستان د استازيتوب لپاره يې مخې ته راولي.

د يادونې وړ ده چې د سر کال په دريم پړاو احمد شاه ابدالي فرسټ کلاس ۴ ورځنيو سياليو کې چې په لومړي پړاو کې يې د ٦ لوبډلو ترمنځ ١٥ او په دويم پړاو کې يې د ۵ لوبډلو ترمنځ ١٠ لوبې ترسره شوې، د سپين غر زون پکې د ډېرو امتيازونو په ترلاسه کولو سره لومړی مقام ترلاسه کړ.

د دې سياليو په پای کې د سپين غر لوبډلمشر نجيب تره کي د ٨٢٨ منډو په ترلاسه کولو سره د غوره توپوهونکي، د امو لوبډلې چپ لاسي سپنر ظهيب چې د افغانستان په ١٩ کلنو کرکټ ملي لوبډله کې به د راتلونکې کال په ١٩ کلنو نړيوال جام برخه هم واوسي، د ۴٦ ويکټو په ترلاسه کولو د غوره توپ اچوونکي او د بوست لوبډلمشر منيراحمد کاکړ د ٨٠٩ منډو په ترلاسه کولو او غوره ويکټ ساتنې په پايله کې د لوبړۍ د غوره لوبغاړي جايزه وګټله.

د اتلې سپين غر وروسته امو لوبډلې په ٩۴ امتيازونو سره دوېم، مس عينک په ٨٣ امتيازونو دريم، بوست په ٧۴ امتيازونو سره څلورم، کابل په ۵٧ امتيازونو سره پنځم او د تيرو دوه پړاونو اتلې بند امير لوبډلې بيا يواځې په ٥٦ امتيازونو سره وروستۍ او شپږم مقام ترلاسه کړ.

POINTS TABLE

S.NO	TEAMS	MATCH	WON	LOST	TIED	DRAW	N/R	POINTS
1	Speenghar	9	4	0	0	5	0	136
2	Amo	9	3	2	0	4	0	94
3	Mis-e Ainak	9	2	3	0	4	0	83
4	Bost	9	2	3	0	4	0	74
5	Kabul	5	1	0	0	3	1	57
6	Band-e Amir	9	1	5	0	2	1	23

NAMES	MAT	INNS	NO	RUNS	HS	AVE	100s	50s	4s	6s
Najeeb Tarakai	9	15	0	**828**	200	55.20	4	2	91	38
Munir Ahmad	9	16	1	**809**	209	53.93	3	1	101	13
Shahidullah	7	12	1	**772**	189	70.18	3	3	85	15
Abdul Malik	8	13	0	**730**	179	56.15	2	4	89	2
Hayatullah	8	13	2	**638**	130	58.00	2	2	70	20
Zia ul Haq	8	16	1	**616**	102	41.06	1	3	70	1
Fazal Niazai	7	13	2	**588**	132	53.45	3	1	62	15
Bahir Shah	6	10	4	**533**	*156	88.83	2	1	77	3
Ihsanullah	4	6	0	**524**	248	87.33	2	1	66	15
Zahid Zakhail	5	8	1	**518**	*215	74.00	2	3	81	3

NAMES	MAT	INNS	OVERS	RUNS	WKTS	BBI	BBM	AVE	ECON	SR	5s	10s
Zohaib	6	11	216.2	673	**46**	37/9	105/12	14.63	3.11	28.2	4	1
Zia ur Rahman Akbar	6	11	219.2	505	**35**	46/6	75/8	14.42	2.30	37.6	3	0
Fareed Ahmad	8	13	249.3	874	**31**	27/6	94/7	28.19	3.50	48.2	1	0
Zahir Khan	5	9	172.3	813	**30**	52/6	130/9	27.10	4.71	34.5	2	0
Abdul Wasi	8	15	262.3	974	**26**	74/5	101/5	37.46	3.71	60.5	1	0
Yamin Ahmadzai	6	10	186.0	608	**23**	37/5	83/7	26.43	3.26	48.5	1	0
Yousuf Zazai	5	8	138.1	516	**20**	85/6	182/8	25.80	3.73	41.4	2	0
Mohammad Alam	6	10	205.2	585	**20**	64/4	86/5	29.25	2.84	61.6	0	0
Abdul Baqi	7	12	185.3	809	**20**	87/4	169/7	40.45	4.36	55.6	0	0
Dastagir Khan	9	16	218.1	824	**20**	49/4	63/6	41.20	3.77	65.4	0	0

محمد نبي او راشد خان د لسيزې غوره لوبډله کې

د ۲۰۱۹ کال له پای ته رسېدو سره سم د ۲۱مې پېړۍ دويمه لسيزه هم پای ته ورسېده او د ۲۰۲۰ کال سره نه يوازې دا چې کال نوی شو، بلکې نوې لسيزه هم پيل شوه.

د تېر کال په پای کې د تېرې لسيزې مهمو پېښنو ته هم کتنه وشوه، خو د کرکټ په نړۍ کې بيا په ځانګړې توګه د تېرې لسيزې غوره لوبغاړي او غوره لوبډلې هم انتخاب شوې.

په نړيوال کرکټ کې د افغانستان نوم هم شاوخوا يوه لسيزه کېږي چې راڅرګند شوی دی، ځکه افغانستان خپله لومړۍ نړيواله لوبه په ۲۰۰۹ کال کې ترسره کړې وه، خو په ۲۰۱۷ کې يې بيا بشپړ غړيتوب ترلاسه کړ او په ۲۰۱۸ کال کې يې خپله لومړۍ ټېسټ لوبه ترسره کړه.

نورو لوبډلو ته په کتلو که څه هم افغان لوبډلې په کرکټ کې ډېر وخت نه دی تېر کړی، خو په دې تېره يوه لسيزه کې افغان

لوبډلې ډېرې سترې لاسته راوړنې درلودې، همدا راز يو شمېر افغان لوبغاړي په نړيواله کچه ډېر وځلېدل، چې د لسيزې په غوره شل اوريزه لوبه کې دوه افغان لوبغاړي هم شامل دي.

د برېتانيې له لندن څخه خپرېدونکی د کرکټ کتاب (ويسډن) چې د کرکټ په نړۍ کې ورته د (بايبل) نوم هم اخيستل کېږي، د تېر په څېر د ۲۱مې پېړۍ د دويمې لسيزې د غوره لوبډلو اعلان هم کړی دی.

په دغه لوبډلو کې بيا په شل اوريزو لوبو کې د افغان تجربه لرونکي الراونډر محمد نبي او د ورو توپ اچونکي راشد خان نومونه راغلي دي.

د ويسډن په وينا، محمد نبي د لسيزې په شل اوريزه غوره لوبډله کې د الراونډر په حېث ځای پېدا کړی دی او لامل يې دا دی چې هغه د ښه سپين توپ اچونې تر څنګ چټکه توپوهنه هم کولای شي او د

هغه ښه توپوهنه د دې لامل شوه چې د بنګله دېش شکیب الحسن او د پاکستان عماد وسیم په پرتله د لسیزې په غوره لوبډله کې ځان ځای کړي.

محمد نبي د ٢٢.٣٠ په اوسط او ١۴٥.٨٩ په سټرایک ریټ سره ١٣١٦ منډې کړې او همدا راز د ٢٢.٣ په سټرایک ریټ او ٧.١٦ اقتصادي توپ اچونې پر مټ يې ٦٩ لوبغاړي سوځولي دي.

راشد خان چې د لسیزې په غوره لوبډله کې يې ځای پیدا کړی دی، ویسډن يې په اړه وايي، چې هغه په ٢٠١۴ کې راښکاره شو او د ډېر چټک سرعت سره يې مزل وکړ، چې د ګوګلي توپ اچونې پر مټ يې خان له نورو ځانګړی کړ او په تېره لسیزه کې يې په شل اوریزو لوبو کې تر نورو توپ اچونکو زیاتې ویکټې هم ترلاسه کړې.

راشد خان ٨۴ ویکټې ترلاسه کړې دي، چې سټرایک ریټ يې ١٢.٢ دی او ٦.١٥ اکانومي لري.

له محمد نبي او راشد خان پرته د لسیزې په غوره شل اوریزه لوبډله کې د استرالیا

ارون فينچ (لوبډلمشر)، د نيوزيلند کولن مونرو، د هند ویراټ کوهلي، د استرالیا شین واټسن، ګلین میکسویل، د انګلستان جاس بټلر (ویکټ ساتونکی)، ډیوېډ میلي، د هند جسپریت بومرا او د سریلانکا لاسیت ملینګا شامل دي.

د ویسډن په پنځوس اوریزه د لسیزې غوره لوبډله کې روهیت شرما، ډیوېډ وارنر، ویراټ کوهلي، اې بي ډیویلرز، جاس بټلر، مهیندرا سینګ دهوني، شکیب الحسن، لاسیت ملینګا، مچل سټارک، ټرینټ بولټ او ډیل سټین شامل دي.

همدا راز د ټیسټ لسیزې په غوره لوبډله کې الیسټر کوک، ډیوېډ وارنر، کمار سنګاکارا، سټیو سمیت، ویراټ کوهلي (لوبډلمشر)، بین سټوکس، اې بي ډیویلرز، روي چندرن اشوین، ډیل سټین، کاګیسو رباډا او جېمز اینډرسن شامل دي.

د افغانستان ځلول مي یوازینۍ هیله ده

کریم جنت

افغان کرکټ مجلې دا ځل د افغانستان ملي لوبډلې له تکړه الراونډر او د شپږیزې په شپږام پړاو کې له ځلبدلي لوبغاړي کریم جنت سره مرکه کړې، هیله ده چې تر پایه یې ولولئ او خوند ترې واخلئ.

پوښتنه: کرکټ دې کله او څرنګه پیل کړ؟

ځواب: په کوچنیوالي کې زما ډېره توجه زده کړو ته وه، خو کله به چې خپلو وروڼو اصغر افغان او عمران جنت سره کرکټ ته تلم، هلته زما هم دې لوبې سره ځانګړې مینه پیدا شوه او همدا و چې کرکټ مې پیل کړ او لوبه به مو هم د کابل په کارته نو سیمه کې کوله.

پوښتنه: کرکټ ته چا ډېر هڅولې یې؟

ځواب: ټولو وروڼو هڅولی یم، لومړی یې نه پرېښودلم چې کرکټ

وکړم، خو چې کله مې ښه لوبه وکړه بیا یې ډېر هڅولم.

پوښتنه: د خلکو ترمنځ چې پېژندل شوی یې، څومره تغیرات دې ژوند کې رامنځته شوي دي؟

ځواب: په ژوند کې مې ډېر بدلون راغلی، ځکه چې اوس مونږ د افغانستان استازیتوب کوو او ډېر خلک مو پېژني او ډېره مینه راکوي.

پوښتنه: چې کله مو د لومړي ځل لپاره د افغانستان په استازیتوب لوبه کوله، څه احساس مو درلود؟

ځواب: داسې یو احساس و چې حتی له تاسو سره یې نه شم شریکولی، ځکه ډېر ښه احساس مې درلود او همدا مې د ژوند تر ټولو غوره شېبه وه.

پوښتنه: د راتلونکي لپاره کومې موخې لرې؟

ځواب: موخې خو ډېرې دي، خو یوازینۍ موخه مې دا ده چې افغانستان ته ډېر ښه نوم وګټم او په نړۍ کې د افغانستان نوم وځلوم.

پوښتنه: څنګه دې وکړای شول چې په شپږیزه لیګ او نړیوالو سیالیو کې د غوره لوبغاړي جایزه ترلاسه کړې؟

ځواب: زه همېشه کوښښ کوم چې په لوبغالي کې د خپلې لوبډلې لپاره ګټور تمام شم نو پایله هم بیا مثبته وي او همدارنګه ډېر تمرین هم کوم.

پوښتنه:
کله دې هم
فکر کړی و، چې دومره
لوی ستوری به شې؟
ځواب: نه خو چې کله مې لوبه پیل کړه دا هوډ مې
وکړ چې باید یو ښه لوبغاړی واوسم.

پوښتنه: په توپوهنه کې درته د لوبغالي کوم لوري ته د توپ لوبول خوند درکوي؟
ځواب: ایکسټرا کور لوري ته.

پوښتنه: کله چې غواړې مخامخ لوبغاړی وسوځوې نو بیا څه ډول توپ ورته کوې؟
ځواب: یارکر توپ ورته اچوم.

پوښتنه: د توپوهنې پرمهال کوم ډول توپ ښه لوبولی شې؟
ځواب: چټک توپ اچونکی ښه لوبوم.

پوښتنه: چې کله له لوبو راګرځې، په عادي حالاتو کې د ورځې څومره تمرین کوې؟
ځواب: د ورځې په لړ کې شا وخوا ۵ ساعته تمرین کوم.

پوښتنه: په کوم وخت کې ښه لوبه کولی شې.
ځواب: کله چې لوبډلې ته ډېره اړتیا وي.

پوښتنه: د سفر پرمهال کوم لوبغاړي سره خوشحاله یې؟
ځواب: حضرت الله ځاځي سره.

پوښتنه: کومه تازه مېوه دې ډېره خوښېږي؟
ځواب: ام

پوښتنه: افغانستان کې دې کوم ولایت ډېر خوښ دی؟
ځواب ټول ولایتونه مې خوښ دي خو کابل راته ډیر ګران دی.

پوښتنه: د سفر پرمهال چا پسې ډېر خپه کېږې؟
ځواب: ټولې کورنۍ پورې، خو مور پسې ډېر خپه کېږم.

پوښتنه: که راته ووایاست کومه داسې لوبه وه چې په خپلو سوځېدو ډېر زیات خپه شوي یاست؟
ځواب: د ایرلنډ پروړاندې په یوه لوبه کې.

پوښتنه: له څه شي کرکه لرې؟
ځواب: له منافقت څخه.

پوښتنه: څومره زده کړې دې کړې دي؟
ځواب: ۱۴ پورې.

پوښتنه: که د خوښې وړ لوبغاړي په اړه راته ووایاست؟
ځواب: روهيد شرما.

پوښتنه: کله ډېر غوسه کېږې؟
ځواب: چې کله توپ اچونه کوم او ډگر ساتونکی میس فیلډینگ وکړي.

پوښتنه: څه ډول ژوند دې خوښ دی؟
ځواب: ساده او ټولنیز ژوند.

پوښتنه: له کوم کار څخه ځان لرې ساتې؟
ځواب: کوم څه چې له شریعت سره په ټکر کې وي، له هغه ځان ساتم.

پوښتنه: په زړه دې کوم ارمان پاتې دی؟
ځواب: ارمان لرم چې په غوره خدمت سره مې افغانان راباندې ویاړ وکړي.

پوښتنه: خپلو هېوادوالو ته څه پیغام لرې؟
ځواب: ځوانان باید د مشرانو درناوی وکړي او د ورزش ترڅنگ زده کړو ته مخه کړي، ترڅو وطن مو د تل لپاره د سیالانو سره سیال شي.

د افغانستان دوه روزونکو د کرکټ له نړیوالې شورا د روزنې سندونه ترلاسه کړل

د کرکټ ملي لوبډلې پخواني چټک توپ اچوونکي دولت احمدزي او د ۱۹ کلنې کرکټ ملي لوبډلې پخواني روزونکي عبدالولي امین د کرکټ له نړیوالې شورا د دویمه درجه روزونکو سندونه ترلاسه کړل چې له دې وروسته به دوی په افغانستان کې دویمه درجه روزونکو ته روزنه ورکوي.
له دې وړاندې به د افغانستان دویمه درجه روزونکي د روزنې لپاره له هېواده بهر تلل، خو اوس به یاد دوه کسان له ځان ښکته دویمه درجه روزونکي روزي.

دولت احمدزي او ولي امین روانه دسمبر میاشت کې د کرکټ نړیوالې شورا د روزونکو په روزنیز کورس کې برخه واخیسته او دغه کورس یې په بریالیتوب پای ته ورساوه.
دولت احمدزی وایي، دوی به له کورنیو روزونکو سره په ګډه اوس هڅه کوي چې د خپلو ترلاسه شویو زده کړو پر مټ د افغانستان کرکټ د پرمختګ لپاره ګټور پروګرامونه او په ځانګړې توګه د کرکټ په برخه کې د هېواد او کرکټ حالاتو ته په کتو د کرکټلپاره یوه ملي فلسفه جوړه کړي

چې پر مټ به یې د هېواد کرکټ لوبغاړو ته روزنه ورکړي.
د ښاغلي احمدزي په خبره، د افغانستان کرکټ بورډ پلان لري چې راتلونکو دریو کلونو کې د هېواد په کچه ۱۵۰ نوي روزونکې وروزي.
د یادونې وړ ده چې اوسمهال د افغانستان په کچه درې روزونکي هر یو دولت احمدزی، رییس احمدزی او ولي امین د درېمې درجې روزونکو سندونه لري.
د ښاغلي احمدزي په وینا، د لومړۍ درجه یا (لېول ۱) روزونکي د ښوونځي، کلپ او ولایتي لوبډلو په کچه، دوېمه درجه یا (لېول ۲) د زون په کچه او

دریمه درجه یا (لېول ۳) د ملي لوبډلې، ۱۹ کلنې او الف لوبډلې په کچه د روزنې صلاحیت لري.
ملي روزونکي دولت احمدزي زیاته کړه، دوی به درې کاله وروسته د دې اجازه ولري چې په څلورمه درجه روزونکو روزنیز کورس کې ګډون وکړي.
د روزونکو د روزنې پنځه ورځنی کورس د کرکټ نړیوالې شورا په نوښت د عربي اماراتو په کوربه توب ترسره شو چې پکې د افغان روزونکو ترڅنګ د اسیا وچې ټولو دریمه درجه روزونکو برخه اخیستې وه او ورته د دوه هندوستانیانو او یوه پاکستاني مشر روزونکې له لوري د ښکته کچې روزونکو د روزلو زده کړې ورکړل شوې.

د کرکټ د زونونو له مسوولینو سره ګډه ناسته ترسره شوه

د افغانستان کرکټ بورډ په مرکزي دفتر کې د زونونو له مسوولینو سره د شته ستونزو او ننګونو د حل، د پلانونو جوړولو، له زونونو د عوایدو ترلاسه کېدو، انظباط، کورني کرکټ او نورو موضوعاتو په تړاو ناسته ترسره شوه چې پکې د زونونو د مسوولینو سربېره د افغانستان کرکټ بورډ اجراییه رییس، په ستراتیژیکو اړیکو کې د عمومي رییس سلاکار، د کورني کرکټ، د انظباط، د کرکټ ډایریکټر او د غوراوي کمېټې عمومي مسوول او د افغانستان کرکټ بورډ د مالي څانګې او نورو مسوولینو ګډون درلود.

په دغه ناسته کې د افغانستان کرکټ بورډ اجراییه رییس ښاغلي لطف الله ستانکزي په پیل کې د زونونو له مسوولینو سره ناسته وکړه، لومړی یې د هغوی ټولې شته ستونزې او وړاندیزونو واورېدل او ورپسې یې د ټولو شته خنډونو او ستونزو د حل ژمنه وکړه. همدارنګه ښاغلي ستانکزي د زونونو له مسوولینوغوښتنه وکړه چې په اړوند زونونو کې غوره کرکټ ته لا ډېر کارونه وکړي، ټولو چارو کې روڼتیا راولي او په ټولو ډګرونو کې غوره لوبغاړي وروزوي، ځکه افغانستان کې ډېر پټ استعدادونه شته چې باید د زونونو د کرکټ له ډګره راپیدا شي.

دغه راز د ستراتېژیکو اړیکو په برخه کې د کرکټ بورډ د عمومي مشر ښاغلي فرهان یوسفزي سلاکار عبدالله بارکزي هم د زونونو له مسوولینو سره ناسته وکړه او د زونونو د مسوولینو د وړاندیزونو له اورېدو یې له هغوی سره بشپړه ژمنه وکړه چې په لویه کچه به د دوی هر ډول ستونزې هوارېږي، خو باید د ټولو فعالیتونو او چارونو لپاره یو بشپړ او روڼ میکانیزم او جوړښت موجود وي، څو ټولې چارې په ښه توګه پکې پر مخ ولاړې شي.

دغه راز د کرکټ بورډ ادارې د کرکټ ډایرکټر او د غوراوي کمېټې مشر انډي مولز هم له دوی سره خپلې مشورې او سپارښتنې شریکې کړې او په افغانستان کې د غوره کرکټ او استعدادونو موندولو لپاره یې اړین معلومات ورکړل.

سربېره پر دې د ډسپلین کمېټې غړو هم د کرکټ د انظباط اصولو په تړاو د غونډې ګډونوالو ته معلومات وړاندې کول او د افغانستان کرکټ بورډ د انظباط کمېټې غړي صبغت الله حمید په دې تړاو بشپړ پرزنټېشن وړاندې کړ.

همدارنګه د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ مسوولینو هم د زونونو له چارواکو سره ناسته وکړه او د ۲۰۲۰م کال ټول فعالیتونو راپور یې ورسره شریک کړ او د دې ترځنګ یې ورته سپارښتنه وکړه، څو دغه راپور د ولایتونو له مسوولینو سره هم شریک کړي چې باید د ټولو لوبو لپاره بشپړ چمتووالی نیول شوی وي چې په استازیتوب یې د دغې برخې مسوول حاجي احمدشاه سلیمانخېل او احسان عبید ګډون درلود.

په پایله کې د افغانستان کرکټ بورډ د مالي څانګې مسوولینو هم د زونونو له مسوولینو سره خپل نظرونه شریک کړل، څو له دې وروسته په ټولو ولایتونو کې له اړونده لوبغالو او اکاډمیو څخه عواید ترلاسه شي او باید له مرکزي ادارې سره شریک شي، څو د کرکټ په ډګر کې لا ډېر او غوره خدمتونه او اسانتیاوې د کرکټ لوبغاړو ته وړاندې شي.

Afghanistan U19 Squad

Sediq Atal

Rahmanuulah Zadran

Farhan Zakhail(C)

Ibrahim Zadran

Noor Ahmad

Shafiullah Ghafari

Jamshid

Abdullah Rahman

Fazal Haq

Imran Mir

Zohaib Zamankhail

Asif Mosazai

Ishaq Mohmadi(WK)

Abid Tanai

Abid Mohmmadi

Reserved Players

Sami Salarzai   Majeed Alam   Arif Khan

Islam Zazai   Ihsan Mandozai

ICC U19 CRICKET WORLD CUP
SOUTH AFRICA 2020

Group D

Afghanistan Schedule

Warm-up Matches

Sun 12 Jan	Afghanistan	vs	India
Tue 14 Jan	Afghanistan	vs	England

Fri 17 Jan	Afghanistan	vs	South Africa
Wed 22 Jan	Afghanistan	vs	UAE
Fri 24 Jan	Afghanistan	vs	Canada

411 معلومات INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړۍ

معلومات 411 ، دعمومي معلوماتو څانګه د مسلکي
او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره
معلوماتو په وړاندې کولو سره 24 ساعته د خپلو
ګرانو هيوادوالو په چوپړکې ده.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

411

/malomaat.af www.malomaat.af info@malomaat.af



The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is the leading and award winning Internet Service Provider (ISP) & Information & Communications Technology (ICT) Enterprise in Afghanistan.

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan +93 (0) 798 85 85 85 www.ranatech.com info@ranatech.com

Afghanistan Cricket Board ACB

Afghanistan's Top Performers of 2019

RAHMAT SHAH

Top Scorer in Test

280

M:3 HS:102 AVE:46.66

Top Scorer in ODI

646

M:20 HS:113 AVE: 32.30

ZAZAI

Top Scorer in T20I

345

M:10 HS: 162* AVE:38.33

GULBADIN

Most Wickets in ODI

22 WICKETS

M: 16 BBI: 6/43 ECO: 5.72

RASHID KHAN

21 WICKETS

M:3 BBI:6/49 AVE:15.76

Most Wickets in Test

20 WICKETS

M: 10 BBI:5/27 ECO:6.61

Most Wickets in T20I

د کرکټ بابا

”
ارمان مي و چي زموږ
خپله ملي لوبډله وي
او ملي بيرغ مي په
لوبغالي کي ورپوم
“

حاجي رضا خان کاکا چي د افغانستان ملي لوبډلي او کورنيو سياليو پر مهال په لوبغالي کي ليدل کېږي او د افغانستان وياړلی درې رنګه بيرغ د ننداره‌چيانو په منځ کي ډېر په وياړ رپوي، اوس يې په ټول افغانستان کي خلک (د کرکټ بابا) په نوم سره پېژني.

هغه د پکتيا ولايت د څمکنيو ولسوالی اوسېدونکی دی، خپل عمر ورته دقيق نه دی معلوم، خو په وينا يې چي د ٦٠ يا ٦٥ کلونو په عمر دی.

رضا خان کاکا چي يو مهال يې په متحده عربي اماراتو کي کار کاوه؛

وايي کله چي افغانستان د کرکټ لوبډله نه درلوده، نو په اماراتو کي به افغانان دوه ډلي و، چي ځينو به د هند له لوبډلي ملاتړ کاوه او ځينو بيا د پاکستان لوبډلي.

هغه وايي: ((ما ويل اد خلک څه لېوني دي چي پرديو لوبډلو ته چکچکي وهي.)) هغه وايي چي ډېر ارمان يې درلود چي په کرکټ کي د افغانستان خپله لوبډله واوسي، نړيوالي لوبي ترسره کړي او دی يکي په لوبغالي کي د مينه والو په منځ کي ناست وي او د افغانستان وياړلی درې رنګه بيرغ پکي ورپوي.

رضا خان کاکا وايي: ((په اماراتو کي مي د فتح محمد په نوم يو ملګری و، يوه ورځ راغلی او راته يې وويل، بابا خبر يې؟ ما ورته وويل، د څه شي نه، هغه بيا راته يې وويل چي د افغانستان ملي لوبډله دوبۍ ته راغلي ده او دلته يې لوبه ده.))

هغه زياتوي، دغه ورځ زما لپاره ډېره د خوشحالي ورځ وه، له فتح محمد سره يو ځای لوبغالي ته لاړم او په لومړي ځل مي د افغانستان لوبغاړي په ميدان کي وليدل او ملي بيرغ مي په لوبغالي کي ورپاوه.

له هغه وروسته رضا خان کاکا د افغانستان هري لوبي ته ځان رساوه، نوموړی وايي چي فتح محمد به هر ځای لوبي ته رسولم او همدا راز نورو ملګرو به هم راسره مرسته کوله.

نوموړي ته دا نه ده معلومه چي په کوم کال کي افغانستان له چاسره لوبه کوله، خو د هغه په وينا چي دا د افغانستان لومړۍ لوبه وه چي افغانستان يکي بريا خپله کړه. هغه وايي، چي تعليم يې نه دی کړی او ډېری کلونه ورته نه دي ياد، خو په وينا يې، چي له تېرو ٢٠ کلونو راهيسي د ملي لوبډلي د تشويق لپاره چي هر چېرته تللی شي، هلته تللی دی او ملي لوبډله يې تشويق کړي ده.

رضا خان کاکا وايي، کله چي ملي لوبغاړي په لوبغالي کي لوبېږي او د افغانستان وياړلی درې رنګه بيرغ يې په لاس کي وي، نو هغه مهال ډېر احساساتي وي، هغه وايي لکه څنګه چي ملي لوبغاړي په جذبه لوبه کوي، همداسي د ده جذبې هم تانده وي.

هغه وايي، چي په شارجه کي يوه لوبه وه، چي افغانستان ته په وروستي توپ ۴ منډي پکار وي، خلک ټول له ميدانه ووتل او ماته يو کس راغی، راته يې وويل چي (بابا دا بيرغ دي نور په خلطه کي واچوه) ما چي وليدل افغانان خپه و، ډېولونو والا ناست و، هغوی ته مي پيسي ورکړي چي ډول ووهي، تر څو لوبغاړي تشويق شي.

د هغه په ياد نه دي چي دغه لوبه له چا سره وه او کوم لوبغاړي توپونه ته ولاړ و، خو وايي چي په وروستي توپ باندي څلورېزه

ترلاسه او افغانستان په لوبه کې بريا خپله کړه. هغه وايي، دا د هغه لپاره ډېره يادگاري لوبه وه او د لوبې په بريا سره يې له سترگو اوښکې را رواني شوې، ملي بيرغ يې پورته کړ او په چيغه يې وويل، چې دا بيرغ به په هر ميدان کې ځلېږي.

رضا خان کاکا وايي، په متحده عربي اماراتو کې چې هر چېرته د افغانستان لوبې وي، هغه ورته تللی دی، همدا راز هند ته هم درې ځل د ملي لوبډلې د تشويق لپاره تللی دی. د ۲۰۱۹ کال نړيوال جام ته هم روان و، خو ويزه يې ونه شوه او له نړيوال جام څخه پاتې شو.

هغه وايي د کرکټ په لړ کې يې ډېرو ولايتونو ته هم سفر کړی دی او په وينا يې، د نورو ولايتونو په پرتله د خوست او ننگرهار خلک له کرکټ سره ډېره مينه لري. هغه وايي په ولايتونو کې خلکو ډېره مينه راکړې ده او اوس مې ټول خلک (د کرکټ بابا) په نوم پېژني.

نوموړی همدارنگه زياتوي، له کرکټ سره يې مخکې ډېره مينه نه درلوده، خو له کله راهيسې چې د افغانستان کرکټ لوبډله جوړه شوې نو خپلې هېوادنۍ مينې دې ته اړ کړ چې په هر ځای کې لوبو ته ځان ورسوي او درې رنگه بيرغ ورپوي. هغه وايي چې لوبغاړي هم ورته ډېر درناوی لري او خلک هم ورسره د زړه له تله مينه کوي.

د کرکټ بابا د دې پوښتنې په ځواب کې چې کوم لوبغاړی يې ډېر خوښېږي؟ وويل، د هغه ټول لوبغاړي ډېر خوښېږي، ځکه چې د افغانستان لپاره لوبېږي، په نړۍ کې د افغانستان نوم او وياړلی درې رنگه بيرغ ځلوي، نو هغه په ټولو لوبغاړو وياړي او له ټولو سره يو شان مينه لري.

هغه وايي چې ورزش د سولې لوبه ده، ورزش د خلکو ترمنځ مينه، خوشحالي او يووالی رامنځته کوي نو په وينا يې، چې لوبغاړو نيمه سوله په خپلو لوبو هېواد ته راوستې ده، پاتې نيمه لوبه دې چارواکي راولي.

رضا خان کاکا وايي، هغه مهال ډېر خپه کېږي کله چې افغانان د خپلو لوبغاړو پر ضد خبرې کوي. هغه وويل کرکټ لوبه ده او هره لوبه کې گټه او بايلل وي، داسې نه شي کېدای چې يوه لوبډله دې هره لوبه کې بريا خپلوي.

هغه وايي له ټولو هېوادوالو مې غوښتنه ده چې په ميدانونو کې جنجالونه مه کوئ، په لوبغاړو پسې خبرې مه کوئ، بلکې دوی وهڅوئ، ځکه چې دوی د افغانستان لپاره لوبېږي او په نړۍ کې د افغانستان نوم ځلوي.

رضا خان کاکا له پوهنې وزارت

هم غوښتنه کوي چې د تعليم په برخه کې دې ډېره خواري وکړي، تر څو هېڅ افغان ماشوم له زده کړو بې برخې پاتې نه شي.

نوموړی وايي، د ژوند ډېر ارمانونه يې پوره شوي، ځکه د ملي لوبډلې ارمان يې درلود چې اوس د نړۍ په هر ميدان کې لوبېږي او افغان لوبغاړي په نړيواله کچه پېژندل شوي اتلان دي، خو په وينا يې چې په هر ځای کې وي، نو د افغانستان وياړلی درې رنگه بيرغ به رپوي.

هغه وويل، سږکال نړيوال شل اوريز جام ترسره کېږي او دا يې ارمان دی چې نړيوال جام کې گډون وکړي او په استراليا کې د افغانستان د لوبو پر مهال خپل بيرغ ورپوي.

په ۲۰۱۹ کال کې د کرکټ هلې ځلې

د کرکټ لپاره د نورو کلونو په پرتله د ۲۰۱۹ کال ځکه له ډېرو ولولو ډک و چې په دغه کال کې د کرکټ نړیوال جام په انګلستان کې ترسره شو، چې د افغانستان په ګډون ۱۰ لوبډلو پکې برخه واخیسته او په زړه پورې پایلوبې نه وروسته انګلستان د نیوزیلنډ لوبډلې ته ماته ورکړه او په لومړي ځل يې د نړيوال جام اتلولي خپله کړه.

له دغه پرته په ۲۰۱۹ کال کې د نورو لوبو تر څنګ د ۲۰۲۰ نړیوال شل اوریز جام لپاره افریقا، اروپا، اسیا او امریکا کې کوالیفایر لوبې هم ترسره شوې، چې په ترتیب سره پکې نمیبیا، جرسي، سنګاپور او کاناډا بریا خپله کړه، خو په لومړي ځل د افغانستان لوبډلې بیا نبغ په نبغه د ۲۰۲۰ نړیوال شل اوریز جام ته لار پیدا کړه.

د ۲۰۱۹ کال نړیوال جام هم له ډېرو نوو ډک و، که یې یوې لوري ته په لومړي ځل په نړیوال جام کې ډېرې لوبې د باران د ورښت له لامله ترسره نه شوې، نو بل لوري ته په تاریخ کې په لومړي ځل د نړیوال جام پایلوبه ډېره جالبه وه چې په سوپر اور پای ته ورسېده. د نړیوال جام پایلوبه د انګلستان او نیوزیلنډ ترمنځ ترسره شوه، نیوزیلنډ

په ۸ ویکټو ۲۴۱ منډې وکړې، چې په ځواب کې يې انګلستان د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۲۴۱ منډې وکړې او لوبه مساوي شوه. انګلستان لومړي سوپر اور ولوباوه چې ۱۵ منډې یې وکړې او نیوزیلنډ ته یې ۱٦ منډې هدف وټاکه، په ځواب کې نیوزیلنډ هم ۱۵ منډې وکړې او سوپر اور هم مساوي شو، خو انګلستان ډېرې شپږیزې او څلوریزې وهلې وې، نو د زیاتو باونډریو پر وهلو د ۲۰۱۹ کال نړیوال جام اتله لوبډله اعلان شوه.

خو وروسته د کرکټ نړیوالې شورا د زیاتو باونډریو په دغه قانون باندې سختې نیوکې وشوې، چې نه یوازې د کرکټ نامتو پخوانیو لوبغاړو او کره کتونکو په دغه قانون نیوکې وکړې، بلکې د کرکټ مینه والو هم دغه قانون تر نیوکو لاندې راوست، چې وروسته ای سي سي هم پر یاد قانون یو ځل بیا فکر وکړ او بدل یې کړ. د کرکټ نړیوالې شورا په خپله نوې پرېکړه کې اعلان وکړ، چې له دې وروسته به سوپر اور د دواړو لوبډلو ترمنځ تر هغه پورې ترسره کېږي، چې تر څو یوې لوبډلې بریا نه وي خپله کړې. په ۲۰۱۹ کال کې د کرکټ لپاره

International Cricket Council

New Cricket Rules

یوه ستره پېښه د بنګله دېش مخکښ الراونډر شکېب الحسن باندې د دوه کلونو بندېز لګېدل هم و.

شکېب الحسن سره په ۲۰۱۸ کال کې درې ځل د کرکټ په لوبو کې د فساد یا فیکسینګ لپاره اړیکې نیول شوې وې، چې هغه د کرکټ نړیواله شورا د انټي کرپشن کمېټه او د بنګله دېش کرکټ بورډ ته په دې اړه هېڅ معلومات نه و ورکړي، چې وروسته ای سي سي د دغه اړیکو اسناد ترلاسه کړل او د فساد ضد قانون د سرغړونې له شکېب الحسن باندې د اکتوبر په میاشت کې دوه کاله بندېز ولګول شو، چې یو کال به هېڅ کرکټ ونه شي کولای.

شکېب الحسن به د ۲۰۲۰ کال تر اکتوبر پورې هېڅ کرکټ ونکړي او له هغه وروسته به د هغه په اړه یو ځل بیا پرېکړه کېږي، چې ایا کرکټ پیل کړي او که نه.

په ۲۰۱۹ کال کې د کرکټ نړیوالې شورا په خپل قانون کې هم ډېر بدلونونه راوستل، د سوپر اور تر څنګ په ټېسټ سیالیو کې په لومړي ځل ای سي سي اعلان وکړ چې د لوبغاړو نومونه او شمېرې به د هغوی په کالیو لیکل کېږي،

ICC WORLD TEST CHAMPIONSHIP

همدا راز په هره لوبه کې چې یو لوبغاړی ټپي کېږي او له لوبې بهر کېږي، نو د هغه په ځای به هماغه ډول لوبغاړی بل لوبې ته راکوزېږي، د بېلګې په ډول که توپ اچونکی له لوبې بهر شو، نو توپ اچونکی به لوبې ته دوام ورکوي او که توپوهونکی یا الراونډر له لوبې بهر کېږي، نو د هغوی پر ځای به هم توپوهونکی یا الراونډر نوره لوبه ترسره کوي.

په دغه کال کې د کرکټ نړیوالې شورا د ټېسټ لوبډلو ترمنځ د (ورلډ ټېسټ چیمپینشپ) یا ټېسټ سیالیو نړیواله اتلولي په نوم سیالۍ هم پیل کړې، چې ۹ لوبډلې پکې ګډون لري او د ۲۰۱۹ نه تر ۲۰۲۱ کال پورې به ترسره شي.

که په ۲۰۱۹ کال کې د کرکټ ټولو خبرو ته تم شو، نو ډېر وخت به ونیسي، خو په دې لیکنه کې به د غوره لوبډلو او غوره لوبغاړو په اړه معلومات راواخلو، چې په دغه کال کې ډېر ځلېدلي دي.

زیاتي او کمي منډې

په ټیسټ سیالیو کې سرکال نیوزیلنډ لوبډلې په یوه پاټۍ کې تر ټولو زیاتې منډې وکړې. دغه لوبه چې د نیوزیلنډ او بنګله دېش لوبډلو ترمنځ د فبرورۍ له ۲۸ د مارچ تر ۳مې نېټې په هميلټن کې ترسره شوه، بنګله دېش په لومړۍ پاټۍ کې ۲۳۴ منډې وکړې، چې په ځواب کې يې نیوزیلنډ د ٦ لوبغاړو په سوځېدو ۷۱۵ منډې ترلاسه او پاټۍ يې ختمه کړه، بنګله دېش په دويمه پاټۍ کې ۴۲۹ منډې وکړې خو له نیوزیلنډ نه يې په يوه پاټۍ او ۵۲ منډو ماته وخوړه.

هند بیا د استرالیا پر وړاندې په یوه پاټۍ کې د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ٦۲۲ منډې وکړې، نیوزیلنډ د انګلستان پر وړاندې د ۹ لوبغاړو په سوځېدو ٦۱۵ منډې وکړې، هند د جنوبي افریقا پر وړاندې د ۵ لوبغاړو په سوځېدو ٦۰۱ منډې وکړې.

په یوه پاټۍ کې بیا تر ټولو کمې منډې د ایرلنډ لوبډلې کړي دي. دغه لوبه چې د ایرلنډ او انګلستان ترمنځ د جولای په ۲٤-۲٦ نېټه په لارډز کې ترسره شوه، د انګلستان لوبډلې په لومړۍ پاټۍ کې ۸۵ او د ایرلنډ لوبډلې بیا په دویمه پاټۍ کې ۳۸ منډې وکړې، چې د ۲۰۱۹ کال تر ټولو کمې منډې وې.
تر ایرلنډ وروسته د انګلستان لوبډله درې ځلې په کمو منډو سوځېدلې ده، چې استرالیا په ٦۷، ویسټ انډیز په ۷۷ او ایرلنډ په ۸۵ منډو سوځولې ده، همدا راز هند بیا د ویسټ انډیز لوبډله په ۱۰۰ منډو سوځولې ده.

د دواړو لوبډلو له لورې زیاتي منډې

په یوه ټیسټ لوبه کې د دواړو لوبډلو د څلور واړه پاټیو کې د زیاتو منډو خبره وشي، نو هند او سویلي افریقا لوبډلو بیا زیاتې منډې ترلاسه کړي دي، دغه لوبه چې د اکتوبر په ۲-٦ نېټه په هند کې ترسره شوې، هند د ۷ لوبغاړو په سوځېدو ۵۰۲ او د ۴ لوبغاړو په سوځېدو ۳۲۳ منډې کړې او سویلي افریقا بیا ۴۳۱ او ۱۹۱ منډې کړې چې په دغه لوبه کې ټولې ۱۴۴۷ منډې جوړې شوې دي.
همدا راز د نیوزیلنډ او بنګله دېش په لوبه کې ۱۳۷۸، د انګلستان او استرالیا په لوبه کې ۱۲۹۱ او ۱۱۸۱، د نیوزیلنډ او انګلستان په لوبه کې ۱۱٦۵ او د استرالیا او پاکستان په لوبه کې ۱۱۵۵ منډې جوړې شوې دي.

ستري برياوې

که په پاټۍ د ماتې خبره وشي، نو هند بیا په یوه پاټۍ او ۲۰۲ منډو د جنوبي افریقا لوبډلې ته ماتې ورکړې ده، همدا راز د زیاتو منډو په لړ کې بیا ویسټ انډیز په ۳۸۱ منډو له انګلستان لوبه ګټلې او په ۱۰ ویکټو هم ویسټ انډیز د انګلستان لوبډلې ته ماتې ورکړې ده.

یو ورځینۍ لوبې

زیاتې او کمې منډې

سرکال د انګلستان لوبډله دوه ځلې په دې وتوانېده چې ډېرې منډې وکړي. د فبروري په ۲۷مه نېټه انګلستان د ویسټ انډیز سره لوبه ترسره کړه او د ٦ لوبغاړو په سوځېدو یې ۴۱۸ منډې وکړې چې د ۲۰۱۹ کال تر ټولو زیاتې منډې دي. په دغه لوبه کې ویسټ انډیز هم ۳۸۹ منډې کړې وې چې په ۲۹ منډو انګلستان بریا خپله کړې وه. دویمې زیاتې منډې هم انګلستان کړې وې چې ۳۹۷ منډې یې د افغانستان پر وړاندې جوړې کړې وې. همدا راز ویسټ انډیز د انګلستان پر وړاندې ۳۸۹، هند د ویسټ انډیز پر وړاندې ۳۸۷ او انګلستان د بنګله دېش پر وړاندې ۳۸٦ منډې کړې وې.
تر ټولو کمې منډې بیا د عمان په برخه رسېدلې دي، چې نمیبیا د اپریل په ۲۷مه نېټه د عمان ټوله لوبډله په ۸۱ منډو سوځولې وه. همدا راز نیوزیلنډ د هند لوبډله په ۹۲، نیپال د متحده عربي اماراتو لوبډله په ۹۷، ویسټ انډیز د پاکستان لوبډله په ۱۰۵ او زمبابوې د متحده عربي اماراتو لوبډله په ۱۱۰ منډو سوځولې وه.

یو ورځینۍ لوبې

سترې بریاوې

سږ کال د ویسټ انډیز او نیوزیلنډ لوبډلو خپلو سیالو لوبډلو ته سترې ماتې ورکړې دي. ویسټ انډیز د ایرلنډ سره په لوبه کې په ۱۹٦ منډو بریا خپله کړې ده او نیوزیلنډ بیا د سریلانکا لوبډلې ته په ۱۰ ویکټو ماته ورکړې.
همدا راز انګلستان د افغانستان لوبډلې ته په ۱۵۰، نیپال د متحده عربي اماراتو لوبډلې ته په ۱۴۵، نمیبیا د عمان لوبډلې ته په ۱۴۵ او نمیبیا د امریکا متحده ایالاتو لوبډلې ته په ۱۳۹ منډو ماتې ورکړې. جنوبي افریقا د افغانستان او سریلانکا لوبډلو ته په ۹-۹ ویکټو ماتې ورکړې دي.

د لوبډلو ريکارډونه

شل اوريزې لوبې

زياتې او کمې منډې

د شل اوريزو لوبو په برخه کې بيا افغانستان سږکال تر ټولو زياتې منډې کړې دي. افغانستان د ايرلنډ پر وړاندې په دويمه شل اوريزه لوبه کې چې د فبرورۍ په ۲۳مه نېټه د هند په دهرادون کې ترسره شوه، د ۳ لوبغاړو په سوځېدو ۲۷۸ منډې وکړې. په دغه لوبه کې حضرت الله ځاځي ۱۶۲ ناسوځېدلې منډې کړې وې، همدا راز حضرت الله ځاځي او عثمان غني د ۲۳۶ منډو ملګرتيا کړې وه او حضرت الله ځاځي ۱۶ شپږيزې هم وهلې وې چې افغانستان په ۸۴ منډو يکې بريا خپله کړې وه.

چيک ريپبلک لوبډلې بيا د ترکيې پر وړاندې ۲۷۸، سکاټلنډ د نيدرلنډز پر وړاندې ۲۵۲، انګلستان د نيوزيلنډ پر وړاندې ۲۴۱ او نميبيا د بوټسوانا لوبډلې پر وړاندې ۲۴۰ منډې کړې وې.

سږکال چې په شل اوريزو لوبو کې تر ټولو کمو منډو باندې کومې لوبډلې سوځېدلې دي، په هغې کې درې ځلې ترکيې په لومړي سر کې راغلې ده. چيک ريپبلک په ۲۱، لګزمبرګ په ۲۸ او استريا په ۳۲ منډو د ترکيې لوبډله سوځولې وه. همدا راز انګلستان د ويسټ انديز لوبډله په ۴۵ منډو او نميبيا د بوټسوانا لوبډله په ۴۶ منډو سوځولې وه.

د لوبډلو ريکارډونه

شل اوريزې لوبې

ستري برياوې

که په شل اوريزو لوبو کې د سترو بريا‌و خبره وشي، نو چيک ريپبلک په ۲۵۷ منډو، رومانيه په ۱۷۳، نيپال په ۱۴۱، انګلستان په ۱۳۷ او استريا په ۱۳۵ منډو برياوې خپلې کړې دي.

همدا راز پي اين جي، نميبيا، استريا، ګريس، پي اين جي او استراليا بيا په ۱۰-۱۰ ويکټو په لوبو کې بريا خپله کړې ده.

د توپوهنې ريکارډونه

ټيسټ لوبې

زياتې منډې

سږکال په ټيسټ سياليو کې يوازې يو لوبغاړی په دې وتوانېده چې ۱۰۰۰ منډې پوره کړي. د استراليا مارکوس لابوشاني چې په ۱۰ لوبو کې يې ګډون وکړ، د ٦٨.١٣ په اوسط يې ۱۰۲۲ منډې وکړې، هغه درې سليزې او ٦ پنځوسيزې ووهلې او همدا راز په يوه پاتۍ کې يې بيا زياتې ۱۸۵ منډې ترلاسه کړې.

په نورو لوبغاړو کې د استراليا ستيو سميت په ۷ لوبو کې ۸۷۳، د انګلستان جو روټ په ۱۱ لوبو کې ۷۷۴، د انګلستان بين سټوکس په ۱۰ لوبو کې ۷۷۲ او د هند ماينک اګروال په ۸ لوبو کې ۷۵۴ منډې ترلاسه کړې.

يوه پاتۍ کې زياتې منډې:

سږکال د استراليا ډيويډ وارنر په دې وتوانېده چې په يوه پاتۍ کې ډېرې منډې ترلاسه کړي، خو هغه په دې ونه توانېده چې د براين لارا د ۴۰۰ منډو ريکارډ مات کړي. ډيويډ وارنر د پاکستان پر وړاندې ۳۳۵ ناسوځېدلې منډې وکړې چې له هغه وروسته استراليا پاتۍ ختمه کړه او د وارنر دغه منډې د سږکال تر ټولو زياتې منډې دي.

په نورو لوبغاړو کې د هند ويراټ کوهلي ۲۵۴ ناسوځېدلې، ماينک اګروال ۲۴۳، د انګلستان جو روټ ۲۲٦ او روهيت شرما ۲۱۲ منډې وکړې.

د توپوهنې ريکارډونه

ټيسټ لوبې

ډېرې سليزې/ پنځوسيزې

سږکال پنځه لوبغاړي په دې وتوانېدل چې ۳-۳ سليزې ووهي. په دې لړ کې د هند روهيت شرما، د نيوزيلنډ ټام لاتم، د هند ماينک اګروال، د استراليا ستيو سميت او مارنوس لابوشاني هغه توپوهونکي دي چې ۳-۳ سليزې يې وهلې دي.

د پنځوسيزو يا نيمه سليزو په برخه کې بيا مارنوس لابوشاني ۹، اجينکی ريهانې ۷، ستيو سميت، کوانټين دي کوک، بين سټوکس، روري برنز او جو روټ ٦-٦ پنځوسيزې ووهلې.

ډېر صفرونه او شپږيزې

هغه لوبغاړي چې په ټيسټ لوبو کې ډېر ځل په صفر سوځېدلي دي، د انګلستان سټارټ بروډ يې په سر کې دی چې ۵ ځل پرته له کومې منډې ترلاسه کولو سوځېدلی دی. همدا راز د انګلستان معين علي او د سويلي افريقا کاګيسو رباډا ۴-۴ ځلې په صفر سوځېدلي دي. د بنګله دېش عبادت حسين، د سريلانکا کوسل پريرا، د ويسټ انډيز روسټون چيس، د جنوبي افريقا تيمبا بووما، د استراليا پاټ کومنز، ډيويډ وارنر او تيم پين او د انګلستان جو روټ بيا ۳-۳ ځلې په صفر سوځېدلي دي.

همدا راز د شپږيزو په برخه کې بيا روهيت شرما ۲۰، ماينک اګروال ۱۸، بين سټوکس ۱۵، کولين دي ګرانډهوم ۱۲ او رويندرا جډيجا ۱۰ شپږيزې وهلې دي.

د توپوهنې ریکارډونه

یو ورځینۍ لوبې

زیاتې منډې

په یو ورځنیو سیالیو کې په روان کال کې ٦ لوبغاړو تر ۱۰۰۰ ډېرې منډې کړې دي، چې په هغوی کې د هند روهیت شرما تر ټولو ډېرې منډې ترلاسه کړې دي. هغه په ۲۰۱۹ کال کې ۲۷ لوبې ترسره کړې او د ۵۷.۰۸ په اوسط یې ۱۴۲۷ منډې جوړې کړې، چې یوه لوبه کې یې ۱۵۹ زیاتې منډې هم کړې دي او ۷ سلیزې او ۵ پنځوسیزې یې هم وهلې دي.

له هغه وروسته د ویسټ انډیز شای هوپ په ۲۷ لوبو کې ۱۳۰۳، د ویراټ کوهلي په ۲۵ لوبو کې ۱۲۹۲، د استرالیا ارون فینچ په ۲۳ لوبو کې ۱۱۴۱، د پاکستان بابر اعظم په ۲۰ لوبو کې ۱۰۹۲ او دُ استرالیا عثمان خواجه په ۲۲ لوبو کې ۱۰۸۵ منډې کړې دي.

یوه لوبه کې زیاتې منډې

سږکال هم د یو ورځنیو سیالیو په یوه پاڼۍ کې ډېرو لوبغاړو تر سلو ډېرې منډې کړې، خو کوم توپوهونکی په دې نه دی توانېدلی چې غبرګه سلیزه ووهي. په دې لړ کې چې کومو لوبغاړو په یوه پاڼۍ کې ډېرې منډې کړې، په هغوی کې د ویسټ انډیز جان کېمبل د ایرلنډ پر وړاندې ۱۷۹، شای هوپ د ایرلنډ پر وړاندې ۱۷۰، ډیوډ وارنر د بنګله دېش پر وړاندې ۱٦٦، کریس ګیل د انګلستان پر وړاندې ۱٦۲ او روهیت شرما د ویسټ انډیز پر وړاندې ۱۵۹ منډې کړې دي.

زیاتې سلیزې/پنځوسیزې

د هند روهیت شرما په ۲۰۱۹ کال کې توانېدلی دی چې تر نورو توپوهونکو ډېرې سلیزې ووهي. نوموړي په ۲۷ لوبو کې ۷

د توپوهنې ریکارډونه

یو ورځینۍ لوبې

سلیزې وهلې دي، چې تر هغه وروسته ویراټ کوهلي ۵، ارون فینچ او شای هوپ ۴-۴ سلیزې وهلې دي.

د نیمه سلیزو په برخه کې بیا شای هوپ او روهیت شرما د ۱۲-۱۲ پنځوسیزو سره مخکې دي، همدا راز ویراټ کوهلي ۱۱، عثمان خواجه او ارون فینچ ۱۰-۱۰ سلیزې وهلې دي.

زیات ځل په صفر سوځېدل

د افغانستان ورو توپ اچونکي مجیب الرحمن او راشد خان بیا د هغه لوبغاړو په لیسټ کې سر ته راغلي دي، چې ډېر ځل په صفر سوځېدلي دي، دواړه ۴-۴ ځل پرته د کومې منډې ترلاسه کولو سوځېدلي دي. مجیب الرحمن که څه هم توپ اچونکی دی خو راشد خان بیا ښه توپوهنه هم کوي.

له دوی پرته په دغه لیسټ کې بیا د ایرلنډ ټم مرتغ، د سریلانکا نوان پرادیپ، د بنګله دېش مستفیظ الرحمن، د امریکا متحده ایالاتو مونانک پټېل، د انګلستان جوني بیرسټو، د پاکستان فخر زمان او د استرالیا ارون فینچ هغه لوبغاړي دي چې ۳-۳ ځل په صفر سوځېدلي دي.

زیاتې شپږیزې

کریس ګېل چې تر شاهد اپریدي وروسته یې په یو ورځنیو لوبو کې ډېرې شپږیزې وهلي دي، هغه په ۲۰۱۹ کال کې توانېدلی دی چې تر ټولو توپوهونکو ډېرې شپږیزې ووهي. نوموړي په ۱۷ لوبو کې ۵٦ شپږیزې وهلي دي. همدا راز تر هغه وروسته بیا اوین مورګن ۴۱، ارون فینچ ۳٦، روهیت شرما ۳۵ او جاس بټلر ۳۲ شپږیزې وهلي دي.

د توپوهنې ریکارډونه

شل اوریزې لوبې

زیاتې منډې

په ۲۰۱۹ کال کې په شل اوریزو لوبو کې د ایرلنډ دوه توپوهونکي تر نورو مخکښ دي. پاول سټرلنګ په ۲۰ لوبو کې د ۴۱.۵۵ په اوسط او د ۱۴۰.۶۰ په سټرایک ریټ ۷۴۸ منډې کړې، چې په یوه لوبه کې یې ۹۱ زیاتې منډې دي. کیوین اوبراین بیا په ۲۳ لوبو کې د ۳۱.۶۹ په اوسط او ۱۵۵.۴۳ سټرایک ریټ باندې ۷۲۹ منډې ترلاسه کړي او یوه لوبه کې یې ۱۲۴ بیا زیاتې منډې دي. د نیدرلنډز مېکس اوډوډ په ۲۴ منډو کې د ۲۹.۲۵ په اوسط او ۱۲۰.۸۲ په سټرایک ریټ سره ۷۰۲ منډې کړي او ۶۹ منډې یې په یوه لوبه کې زیاتې منډې دي.

په نورو لوبغاړو کې بین کوپیر په ۲۱ لوبو کې ۶۳۷، انډي بیلبیرني په ۲۰ لوبو کې ۶۰۱، د پي اېن جي ټوني اورا په ۱۷ لوبو کې ۵۷۲، د نیپال پارا کړکا په ۱۸ لوبو کې ۵۷۲، د سکاټلنډ جارج مونسي په ۱۵ لوبو کې ۵۲۶ او د هند ویراټ کوهلي په په ۱۰ لوبو کې ۴۶۶ منډې کړې دي.

د افغانستان له لوري بیا حضرت الله ځاځي په ۱۰ لوبو کې ۳۴۵ منډې ترلاسه کړې دي.

یوه لوبه کې زیاتې منډې

د افغانستان چټک توپوهونکي حضرت الله ځاځي په ۲۰۱۹ کال کې په یوه لوبه کې تر ټولو زیاتې منډې کړې دي. هغه د فبرورۍ په میاشت کې د ایرلنډ پر وړاندې چټکه توپوهنه وکړه چې ۱۶۲ ناسوځېدلې منډې یې وکړې، دا منډې نه یوازې دا چې د ۲۰۱۹ کال تر ټولو زیاتې منډې دي، بلکې په شل اوریزو لوبو کې دویمې زیاتې منډې هم دي.

په نورو لوبغاړو کې د سکاټلنډ جارج مونسي ۱۲۷ ناسوځېدلې، د ایرلنډ کیوین اوبراین ۱۲۴، د استرالیا ګلین میکسویل ۱۱۳ ناسوځېدلې او د استریا بلال زلمي ۱۱۱ ناسوځېدلې منډې کړې دي.

د توپوهنې ریکارډونه

شل اوریزې لوبې

ډېرې پنځوسيزې

په دغه کال کې ډېرو لوبغاړو یوه یوه سلیزه وهلې ده، خو د پنځوسیزو په برخه کې بیا د ایرلنډ پال سټرلینګ ۸ پنځوسیزې وهلې دي، د نیدرلنډز مېکس اووډ ٦ پنځوسیزې وهلې دي. همدا راز د هند ویراټ کوهلي، د پي اېن جي ټوني اورا او د نیدرلنډز بین کوپیر ۵-۵ پنځوسیزې وهلې دي.

ډېرې شپږیزې:

په ۲۰۱۹ کې تر ټولو زیاتې شپږیزې د ایرلنډ کیوین اوبراین وهلې دي، نوموړي په ۲۳ لوبو کې ۳٦ شپږیزې وهلې دي، د سکاټلنډ جارج مونسي په ۱۵ لوبو کې ۳۴ شپږیزې وهلې، د پي اېن جي ټوني اورا په ۱۷ لوبو کې ۳۰ شپږیزې وهلې، د نیپال پرس کړکا په ۱۸ لوبو کې ۲۵ شپږیزې وهلې او د افغانستان چټک توپوهونکي حضرت الله ځاځي په ۱۰ لوبو کې ۲۴ شپږیزې وهلې دي.

د توپوهنې ريکارډونه

شل اوريزې لوبې

په يوه لوبه کې بيا تر ټولو زياتې شپږيزې حضرت الله ځاځي وهلي دي، چې د ايرلنډ پر وړاندې يې ۱۶ شپږيزې وهلي وې او ۱۶۲ ناسوځېدلي منډې يې په ۶۲ توپونو باندې کړې وې. همدا راز جارج مونسي ۱۴، رويجا سندروان، رويندر پال سينګ، سوديش ويکراماسيکارا او ليزلي دونبر ۱۰-۱۰ شپږيزې وهلي دي.
اندريو منسل بيا هغه لوبغاړی دی چې ۴ ځل په صفر سوځېدلی دی، همدا راز نور ډېر توپوهونکي هم بيا ۳-۳ ځلې په صفر سوځېدلي دي.

زياتې ويکټې

د توپ اچوونکو په برخه کې بيا د نيپال سنديپ لاميچين، د نيدرلنډز بربنډن ګلوو او د نيپال کرن ۲۸-۲۸ لوبغاړي سوځولي دي، د ايرلنډ مارک اډير او د نيدرلنډز پال وان ميکيرين ۲۷-۲۷ ويکټې ترلاسه کړې دي. د افغانستان په لوبغاړو کې بيا راشد خان په ۱۰ لوبو کې ۲۰ ويکټې ترلاسه کړې دي.

په يوه لوبه کې ښه توپ اچونه

په يوه لوبه کې تر ټولو ښه توپ اچونه د هند ديپک چاهار ترسره کړې ده، چې هغه په ۳.۲ اورونو کې د ۷ منډو په ورکولو سره د بنګله دېش ۷ لوبغاړي سوځولي. همدا راز لاسيت ملينګا، کريم جنت او راشد خان هم په هغه توپ

د توپوهنې ريکارډونه

شل اوريزې لوبې

اچوونکو کې شامل دي، چې د کمو منډو په بدل کې يې په يوه لوبه کې ۵-۵ لوبغاړي سوځولي دي.

اوږده ملګرتيا

په لومړۍ ويکټ باندې د ډېرو منډو ملګرتيا د افغانستان حضرت الله ځاځي او عثمان غني کړې ده، چې هغوی د ايرلنډ پر وړاندې ۲۳۶ منډې کړې وې. په دويمه ويکټ د کويټ رويجا سندروان او عدنان ادريس د قطر پر وړاندې د ۱۵۶ منډو ملګرتيا کړې، په دريمه ويکټ د انګلستان ډيويډ ملن او ايون مورګن د نيوزيلنډ پر وړاندې د ۱۸۲ منډو ملګرتيا کړې، په څلورمه ويکټ د نميبيا کوټز او ويليمس د بوټسوانا پر وړاندې ۱۱۲ منډې ملګرتيا کړې او د پنځمې ويکټې لپاره د افغانستان نجيب الله ځدراڼ او محمد نبي د زمبابوې پر وړاندې د ۱۰۷ منډو ملګرتيا کړې ده.

۲۰۱۹ کال په انځورونو کې

عزیزی بانک

Azizi Bank

قرضه رفاه

RIFA LOAN

بهترین گزینه برای رشد و پیشرفت کاروبار

زنان